الله جل جلاله

# ديني لارښود

## لومړی ټوک

Ketabton.com

ديپلوم انجنير عبدالله هاشم خيل



2011



د پښتو کمپيوټري ليک او ديزاين:
ښاغلی حميدالله هاشم خيل ځاځی

**ددې کتاب چاپول او فوتوکاپي کول پرته د ليکونکي د اجازت منع دی.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيم

# لومړی برخه

**هغه کړه وړه چې ايمان بشپړوي په زړه کښې رښتيا ګڼل او باور کول او په ژبې ويل (اقرار)**

**سره عمل هم د ايمان شرط دی.**

**ښه او د خير کار او نيک عمل د ايمان روښنايي**

**ده که نيک او ښه کړه وړه نه وي، نو ايمان ته زيان رسيږي او نيمګړی به پاتې وي.**

**ښه چارې او کړه وړه ډېر دي لکه: لمونځ ،**

**روژه، زکات، حج خيرات، قرآن شريف لوستل،**

**ښه او نيکو کارو ته د نورو پام اړول او له بدو**

**کړو وړو څخه منع کول، د مور، پلار او ښوونکي**

**درناوي، د جمات، مدرسو او ښوونځيو جوړول**

**او زده کړه په کښې پيل کول، تږي او لوږي ته**

**اوبه او ډوډی ورکول او داسې ډېر نور ښه او نيک کارونه چې ايمان بشپړوي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دینی پوښتنې او ځوابونه

پوښتنه: د چا بنده يې؟

ځواب : د الله تعالی (ج) بنده يم.

پوښتنه: چا پيدا کړی يې ؟

ځواب : الله تعالی (ج) پيدا کړئ يم.

پوښتنه: د چا په امت يې؟

ځواب : د محمد مصطفی (ص) په امت يم.

پوښتنه: د چا په ملت يې؟

ځواب : د ابراهيم خليل الله په ملت يم.

پوښتنه: د چا په مذهب يې؟

ځواب : د امام صاحب په مذهب يم چې نعمان

نوميږه او په ابوحنيفه مشهور دی.

پوښتنه: اسلام څو بنسټونه لري؟

ځواب : د اسلام بناوې يا بنسټونه پنځه دي.

١ـ کلمه ٢ـ لمونځ ٣ـ روژه ۴ـ زکات ۵ـ حج

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی ـ کلمه طیبه:



د الله (ج) نه سوا بل معبود نشته محمد (ص) د الله (ج) رسول دی.

هر مسلمان باید دغه کلمه په ژبه ووايي او په زړه باور وکړي. باید په دې باور ولرو چې الله (ج) یوه دئ، هیڅ شریک او ساری نه لري.



## دویم ـ لمـــونځ:

حضرت محمد (ص) فرمایلي دي چې: لمـــونځ د دین ستـــن ده، که څوک یې ټینګ کړي نو دین یې ټینګ کړ او که پرېښودل شي نـو دین یې ویجاړ او ړنـــګ کـــړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په هر مسلمان د ورځې پنځه وخته لمونځ فرض دی

چې هغه دا دي:

**۱ــ دسهار لمونځ:**

چې څلور رکعاته دي. لومړي دوه رکعات يې

سنت او دوه رکعات نور يې فرض دي.

**۲ــ د ماسپښين لمونځ:**

چې لس رکعات دي. لــــومړي څـــلور رکعات

سنت، څلور فرض، او وروستي دوه رکعات بيا

سنت دي.

**۳ــ د مازيګر لمونځ:**

چې څلور رکعـــات فرض دي.

**۴ــ د ماښام لمونځ:**

چې پنــځه رکـــعات دي.

لومړي درې رکعات يې فرض او وروستي دوه

رکعات سنت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵ـ د ماخستن لمونځ:

ماخستن لمونځ: چې نهه رکعات دي.
لومړي څلور رکعات يې فرض او دوه رکعات
سنت او وروستي درې رکعات يې وتر واجب دي.

## دريم ـ روژه:

روژه په هر هوښيار مسلمان باندې چې ځواني ته
رسېدلئ، ژنی (بالغ) او جوړ وي فرض دئ چې د
روژې ټوله مياشت روژه ونيسي.
روژه د پرشمي نه وروسته د روڼ ګهيځ څخه تر لمر
لويده يا ماښام لمونځ پورې نيولئ کېږي. د مسلمانانو
سپيڅلی کتاب قرآن شريف لومړيني آيـــتونه په همدې
مياشت کښې حضرت محمد (ص) ته د الله (ج) لخوا
نـــازل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلورم ـ زکات:

زکات څښتن تعالی (ج) پر مسلمانانو فرض کړئ دئ. په خلکو کښې داسې کسان شته چې د خواړو او جامو د اخيستلو وس نه لري او يا ناروغه وي خو د درملو وس يې نه وي.

خو ددې خلــکو تر څنګ داســې کسان هم شـته چې روپۍ او شتمني لري او بايده ده چې دوی د بېوزلو او بې وسو سره مرسته وکړي څو هغوی هم هوسا او سوکاله ژوند وکړای شي.

## پنځم ـ حج:

هر وسمن مسلمان بايد د خپل عمر په اوږدو کښې يو ځل مکهٔ معظمې ته لاړشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library





# قرآن کریم

قرآن کریم د مسلمانانو د اسماني او سپېڅلي کتاب نوم دئ چي د الله (ج) له خوا پر محمد (ص) د جبراییل (علیه السلام) په واسطه نازل شوئ دئ. قرآن کریم دېرش پارې او یو سلو څوارلس سورتونه او ۶۶۶۶ آیته لري. قرآن کریم په درویشتو کالو په موده کښې نازل شوی دی. قرآن شریف الله (ج) د انسانانو د لاربښووني له پاره رالیږلی دی.

مسلمانان په قرآن کریم ایمان او باور لري.

د قرآن شریف لوستل ډېر ثواب لري. ټولو مسلمانانو ته ښایي چي د قرآن کریم لوست وکړي.

**پوښتني:**

۱ــ قرآن کریم پر چا نازل شوی دی؟

۲ــ قرآن کریم څو پارې، څو سورتونه او آیته لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لويې ګناوې

لويې يا کبـــيره ګــناوې ډيرې دي خو موږ يې ګرانو زده کوونکو ته ځو د بيلګې په شان وړاندې کوو،

لکه:

ـ څوک وژل

ـ زنــــا کــول

مسکرات لکه شراب، چرس، اپين، هيروين او نور نيشه لرونکي څيزونو چښل او څکول

ـ غلا کـــول

ـ پر چا پره اچــول

ـ په دروغو لوړه (قسم) خوړل

ـ د چا مـــال خـــوړل او پـــټـــول

ـ سود خـــوړل او سود ورکـــول

ـ د يـــتيـــم مـــال خـــوړل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ـ د مور او پلار خبرو نه سر غړول

ـ بډې اخیستل او یا بډې ور کـــول

ـ په چا کودې او سحر کول او یا زده کـــول

ـ د ښځی سرغـــړونه د مېـــړه خـبرونه

ـ جــواري ( کېمار ) وهـــل

ـ بې ځایه او چــتي لګــښت او اسراف کــول

ـ په امانـــت کښې غـــبن کـــول

ـ چوغلي یا دوو تنو یا ډلو تر منځ د نفاق اور بلول

ـ د الله (ج) د پیرزوینې او رحمت نـه نـاامید کېدل

ـ د ښځی او مېړه تر منځ پسات اچول

ـ پرته له شرعي عذر څخه روژه نه نیول

ـ په تله (ترازو) او تللو کښې لږوالی او نـاسمي کول

ـ د زکات فرض کېدو سره زکات نه ور کول

ـ د پاک الله (ج) د عذاب څخه نه ډارېدل

ـ له ځانه دروغ او نـاسم حدیث وایل اوداسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلور آسمانی کتابونه

موږ په دې باور لرو چې د انسانانو د پیدایښت سره سم له حضرت آدم (علیه السلام) نه د حضرت محمد (ص) تر وخته پورې د الله (ج) له لوري د انسانانو د لارښوونې له پاره آسماني کتابونه رالیږل شوي دي، چې خلک یې ولولي او په احکامو یې عمل وکړي.

او ددې کتابو په رڼا کښې ژوند وکړي او ایمان پرې ولري. او هغه دادي:

۱ـ  تورات په حضرت موسی (علیه السلام)

۲ـ  زبور په حضرت داود (علیه السلام)

۳ـ  انجیل په حضرت عیسی (علیه السلام)

۴ـ  قرآن شریف زموږ په پیغمبر حضرت محمد(ص)

باندې نازل شوی دی.

قرآن شریف وروستی اسماني کتاب دی، تر دې بـل اسماني کتاب نه دی نازل شوی او نه به تر کیامـته (قیامته) پورې نازل شي، ځکه چې حضرت محـمد (ص) وروستنی پیغمبر دی. تر هغه وروسته بل هیڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغمبرنه لیږل کیږي چې آسماني کتاب ور باندې نازل شي.

قرآن شریف یو بشپړ کتاب دی. په دې کتاب کښې د ټولو انسانانو دیني او دنیاوي ښېګڼې د کیامت تر ورځې پورې په نظر کښې نیول شوي دي او د انسانیت ټولو غوښتنو ته په هر وخت او مهال کښې ځواب ورکوونکي دی.

د قرآن شریف نازلیدو څخه وروسته د عمل په ډګر کښې یوازې او یوازې په قرآن کریم باندې عمل کیږي.

## پوښتنې:

۱ـ اسماني کتابونه څو او کوم دي؟

۲ـ قرآن شریف کوم پیغمبر ته نازل شوی دی؟

۳ـ وروستنی اسماني کتاب کوم دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# فرض

فرض هغه دی چې ادا کــول یې په هــر مسلمان لازم دي، کــه څوک فرض نه ځان وغړوي نو کافر کیږي، که څوک پـــرته له شرعي عذر نه هغه پریږي فاسق دئ او مستحق د عذاب دی.

فرض دوه ډوله دي:

۱ـ فرض عین

۲ـ فرض کفایه

# واجب

واجب هغه دي چې مرتبه یې له فرض نه لــږه او ادا یې ضروري وي. د واجب منکر نه کافر کیږي څوک چې واجب پرته له کوم عــذر څخه پریږدي فاسق به وي او مسحق د عذاب دئ.

# سنت

سنت هغه چـــار ته وایي چې هغه خــــپله حضرت محمد (ص) او خلفای راشدین رضي الله عنه کړي وي او یا په کولو یې حکم کړي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سنت دوه ډوله دي:

۱ـ موکده سنت،

۲ـ غیر مؤکده سنت

## ۱ـ مؤکده سنت:

هغه دي چې حضرت محمد (ص) هغه کار ارمیش کړي وي او یا حکم یې کړی وي چې هغه کار ارمیش وشي، او پرته له مجبوري هیڅکله حضرت محمد (ص) هغه کار پریښودلی نه وي.

## ۲ـ غیر موکده سنت:

غیر موکده سنت هغه سنت دي چې حضرت محمد (ص) کله ـ کله کړي وي او یا کله یې پرېښودلي وي. پرته له کوم عذر نه غیر مؤکده سنت ترسره کول اجر دی، او ډېر پرېښودل کېنی یې ګناه یا وبال نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حرام

حـــرام هغه چار يا كار دی چې په شــرع كښې مـــنع وي. كوونكي يې پرته له عـذر څخه فاسق او مستحق د عذاب دي.

## ديني خبرې او احاديثو څخه

**وايي:**

مسلمـــان هغه ده چې پــــه ژبـــه او لاس مسلمـــانان وژغوري. ياندې(يعنې) په ژبه او لاس يې مسلمان ته آزاد ونـه رسيږي.

**وايي:**

د منافق دا درې نخښې دي.

- چې خبرې ګوي نو درويغ وايي.
- چې ژمنه وکړي پرې وفا ونكړي او د ژمنې او هوكړې خلاف كار وكړي.
- په امانت كښې غبن او درغي يا خيانت وكړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي:**

پـه تاسې کښې ښه هغه دی، چې قــرآن شريف لـــولي او نورو ته يې ور زده کوي.

**وايي:**

پاک خـدای(ج) تاسو هستي، شتمني او مخونو ته نه ګوري. د تاسې زړونه او د تاسو اعمــالو ته ګوري.

**وايي:**

حضرت محمد (ص) وايلي دي چې چوغلګر يا خبرغل (غمار) به جنت ته ولاړ نشي.

**وايي:**

ختميري(غيبت) يا د چا په الــونيا کښې يا د چا پسې شا د هغه عيب ويل د خپل ورور غوښه خوړل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي:**

حيا د ايمان څانګه او نخښه ده.

**وايي:**

املک لسانک (تـرمـزي): خـپلـه ژبه وسـاته.

**وايي:**

هــرشی چې نشه ولــري حــرام دی.

**وايي:**

د جنت کلــي (کونجي) لمونځ ده او د لمونځ کلــي پــاکــي ده.

**وايي:**

د غــاښو مينځل په مسواک د خـولې پاکــي ده او د خدای (ج) رضــا مندي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وايي:**

**رخه (کينه يا حسد) څخه تېښته وکړئ ولې چې رخه د انسان نـيـکي داسې خــوري لکه چې د اور لــمـبې لرګي خوري.**

**وايي:**

**د پنــځه وخت لمــونځ کــولو سـره په خدای (ج) د ګناهونو بخښنه وکړي.**

**وايي:**

**پـــه حـــديــث شــريف کښې راغـــلي چــې پـــه کيـــامـــت کښې به لـــمړني پوښـــتـــنې دا وي:**

**- تېـول عـمر دې په څـــه شان تـــېر کـــړ؟**

**- له دين څخه چې تاتــه کـومه زده کړه او پوه تـر لاسه شوې وه په هغه دې څــومـــره عمل وکـــړ؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



- هستي او شـــتمني دي په څـــه شـــان لاس تـــه راوړه ، څرنـــګـــه او چـېرته دې ولـګـوله؟
- له ځان څخه دې څـه کـــار واخـــيست، يانـدې (يعنى) د ځان غــړي دې په کوم اعمالو او کړو وړو بوخـــت ســـاته؟

**وايي:**

څوک چې غـلـتول او تـګماري کـوي، هغه زموږ نه ده، يانديې که څوک د کوم څـيز په خرڅـلاو، او يا په مامـلو کښې مسلمان غلتوي او تـګماري ورسره کوي نو د مسلمانانو له تولنـــې څخه وتـــلئ ده.

**وايي:**

حضرت محمد(ص) فـرمايلـي دي چې: رښـتيا وايي او رښتيا وايل د نېکۍ لارښـوونه ده. رښـــتيا او نيـکي دا دواده مســـلمـــان ته د جنت زيـرى ور کـــوي.

د درويغـو نه ليرې ګـــرځى ځــکه چې دروغ وايــل د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـدي لارې لارښـوونه کوي. درويـغ او بدي دا دواړه مسلـمـان دوزخ تـــه وړي.

**وايي:**

په حـديـث شـريـف کښې راغـلـي دي چې په راتـلونـکي زمانه کښې به د مېرمنو جـامې هـڅې په نـوم وي او په رښتيـا به دوی بـرمنـډې وي. داسې ښځو ته به جنت کښې ځـای نـه وي، او نـه بـه د جنت خوشـبويي تـرلاسه کـړي.
(يانـدې مېرمنـې دومره نرى او لنـډه جامه اغـوندي چې ځـان يې څرګـنديږي. څـرنګـه چې په دې زمانه کښې په سترګو ليدل کيږي.)

**وايي:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حضرت محمد(ص) وایـلي وي چې هر څوک پرته د پاک خدای (ج) څخه په بـل شي لــوړه (قسم) وکړي، نو کــفر او شــرک یې وکــــړ.**

**په دې زمـــانه کښې ځـینـې روږدي دي چې د چــا په سر یا په ځــان لـــوړه کـــوي چې دا ناروا ده.**

**که چــا په تــبروتـــنـــې سره داسې لـوړه وکــړه نو سمــدلاســه به کــلمـــه وایي.**

**وایي:**

**حضرت محمد(ص) وایـــلي دي چې:**

**څــوک چې کمـینـي، بې کـبري او لـږ نو سي کـوي نـو الله(ج) به لــوړه مــرتـبه ور په بـرخه کـړي او څوک چې لویــي، غرور او ځان لـوړ بـولي نو اور مـیـږیې ماتــیـږي، یاندې خــوار او رســوا به شي.**

* * * * * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دویمه برخه

## د ځان پاکی

پاکي ډېر ښه کار دی. د لاسو، پښو، ویښتو او ټول ځان مینځل او د جامو پاکوالی ډیرې ګټې لري. پاک کوچنیان تل روغ او د هر چا خوښ وي.

څوک چې ځان او کالي پاک ساتي خدای تعالی (ج) تري خوشحالیږي.

که د چا ځان او کالي پاک نه وي په ډول ـ ډول ناروغیو اخته کیږي او لمونځ یې هم نه کیږي.

د لمونځ له پاره اودس کول دیني او روغتیایي ښیګڼې لري. له همدې کبله پاک والی د ایمان یوه برخه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه هـر چاته په کـار دي چې ځان، جامـــې او د استوګنې ځای پاک وساتي.

موږ ته په کـــار ده چې د ډوډی تر خـوړلـــو وروسته خوله او غـاښونه ښه ومینځو. سهــار او ماسخـوتن مسواک یا د غاښونو برس وهل هېر نـکړو، ولې چې دا کـــار ډېره ګــټـــه لـــــري.

د ځان ډېـرې نـاپاکي بـرخې په اودس سره پاکیـږي.

موږ مسلمانانو ته ښایـــي چې د پاکـــي په هکـلـه ډېره پامــلــــرنه ولــــرو.

## پوښتنې:

۱ـ پاکـــي څه ګــټې لري؟

۲ـ د پاکي په هکـلـه خدای(ج) څه وایلــي دي؟

۳ـ څوک چې پاکـــي نه کوي نــو لمــونځ یې روا کیـــږي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مور او پلار د حقوقو پيژندنه

مور او پلار په موږ ډېر حق لري. مور او پلار زموږ د پيدايښت سبب شوي دي، که مور او پلار نه وای نو موږ به هم نه وای پيدا شوي.

کله چې موږ وزيږيدو، نو ډېر کمروزي وو او په هيڅ نه پوهيدو.

مور راته خپلې شېدې راکولې، پلار راته جامې او خواړه برابرول.

مور او پلار دواړو هر ډول ستونزه يې ګالله، تر څو چې زموږ ښه پالنه او روزنه وکړي. مور او پلار موږ ښوونځي ته ليږي، تر څو په ښوونځي کښې ليک، لوست او ښه کارونه زده کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځرنګه چې مور او پلار موږه سره دومره نیکي کوي، نو پر موږ ښايي چې د مور او پلار خدمت وکړو. له هېڅ خبرې ځخه يې سر ونه غړوو، او د دوی په وړاندې داسې کـارونه ونه کـړو چې دوی پـرې خپه کيـږي.

که مور مو بـودۍ او پلار مو بـوډا شي بايـده ده چې داسې پالنــه يې وکــړو لکه ځنګه يې چې په کوچنـي توب کښې زموږ پالـــنه کــوله.

خــدای پـــاک په خـــپل کتاب قـــرآن شريف کښې او پيغمبر (ص) په خپلو احاديثو کښې په وار ـ وار موږ ته امر کړئ دئ چې: د مـور او پـلار سـره مـو ښه او نیکي وکـړئ او دوی سره په درنـــاوی چلـند کـوی.

د پاک خدای(ج) رضا د مور او پلار رضا سره نغښتې ده او د پروردګار ناخوښي د مور او پلار ناخوښي ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښايي چې د دوی، رضـامنــدي تــرلاسه شي، او هېڅ وخت د دوی بې مختوب (بې لحاظي) ونکړو.

مونږ به زيار وکــاږو چې د پلار او مور د زړه ساتــنې سره د خدای(ج) او حضرت محمد(ص) امــر پر ځای کــړو.

* * * * * * * *

**Moschee von Medina**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د مشرانو د حقوقو پیژندنه

مونږ بايده چې هـر کله او هـر وخت کښې د مـشرانو خيزمت او درناوی وکړو.

کله چې مـونږ د مشرانو سره مخامخ کيـږو بايـده ده چې سلام ورته واچوو. هـر کله چې مشـران خـبرې کوي، بايده ده غلي او چوپ کښينو او خـــبرو ته يې غوږ ونيسو، او که مـونږ د مشرانو په وړاندې خبرې کـــوو بايـــده په ادب سره وغـــږيـــږو.

که مشران کـوم ښه کار راته وښيي بايـده چې په ښه ډول يې ســرته ورسوو.

زمونږ پيغمبر ﷺ وايلي دي چې:

" د خپلو مشرانو درناوی وکوی "


(c) ketabton.com: The Digital Library



**پوښتنې:**

- **د مور او پلار حقوق کوم دي؟**
- **خدای پاک د مور او پلار د حقوقو په هکله څه وایلي دي؟**
- **د ښوونکي حقوق څه دي؟**
- **کله چې د مشرانو سره مخامخ شو بایده څه**
- **وکړو؟**
- **زموږ پیغمبر ﷺ د مشرانو په هکله څه وایلي دي؟**

* * * * * * * *



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د خوړلو او څښلو ادبونه

کلـــه چې د ډوډی په خـــوړلـــو پیل کوو، نو لـومړی لاسـونه پـــریـمیـنځو او بیا ســـم کښیـنو.

بسم الله الر حمن الر حیم بـــه ووایو او په ښی لاس به په ډوډی خوړلو پـیل وکـړو او له خپلې مخې څخه به خـوړو. د بل چا مخې ته به لاس نه ورغـزوو.

د ډوډی خـــوړلو په وخت کښې به وړې وړې مـــړی پـورته کوو او ښې به یې ژویـو. په خوړلـو کښې به چالاکـــي نه کوو او چـــاته به ځیر ځیر نه ګورو، او یـوې خوا او بلـــې خـــواته به هم نه ګورو د ډوډی د ژوولـو په وخت کښې به د خـولې زیاتـو وازولـو څخه ځان ساتـــو.

خپل غـــاب کښې به خـواړه نه پـریـــږدو او ټول بایـــده چې وخـوړل شي چې دا ډیـــر برکت او ثواب لري.

ډوډی په کـښیـنـاسـتـلو او پرته له کبر او لویي په ډیـر کمـــینـــي او عـــاجـزي سره وخــوړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ډوډۍ لـــږه وي نو دومـــره به خورو چې نورو ته هم ورسيــږي. کلــه چې د ډوډۍ خـــوړلو په وخـــت کښې ټـوخی او يا پـرنجی راشـي، نو ښايـي چې مــخ بلې خـــوا ته واړوو.

خجور، مېلوه(انګور) پتاسې او داسې نـور که په ډلـه کښې خوړل کيږي نـو پـوه يـوه دانه وخـوړل شي.
دوه دوه او پـه يـوه وار ډيـر خوړل د وړ ستـرګي او سراښتوب نخښه ده.
ډوډۍ په کـښـيـناستـلـو وخـورئ چې په دې کښې خير او برکت ده. په خـــواړه کښې زيـــاتـی او اصراف مه کوئ. له ډوډۍ خـــوړلـــو وروسته خدای(ج) شکر پر ځای کړئ.
د مېلمه ښه کور به شئ او د هغه ښه ميلمه پالنه وکړی. ترهغه د ړينګي (دسترخان) څخه مه پورته کيږئ تر څو چې مېلمه موړ شوئ نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک مور شوئ هم وي خو د مبلمه له پاره باید چې لږ لږ لاس ووهي، تر هغه چې مبلمه پای ته ورسېږي.

له مریدو څخه وروسته بایده چې (الحمدلله) ووایو. خوله او لاسونه مو پاک پریمینځو او په لاس څپوني یې وچ کړو.

د څښاک له پاره بایده ده چې د څښلو لوښي پاک وي. څښاک په یو وار مه څښئ او غوړپ غوړپ وڅښي او څښاک نه وروسته (الحمدلله) ووایاى.

که مبلمه له تاسو نه خداى پاماني اخلي، نو د کور تر ور پورې د مبلمه بدرګه کول سنت دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کښېناستلو او تللو ادبونه

داسې کښېناستل او پښې غزول چې په کښېنې بې پردګي وي او ځان لــوخ وبريــښې مــنع ده او وبال لـــري د مشرانــو په لـــور پښې غـــزول او له دوی ځخه بـــر کښېناستل بې ادبي ده.

ليارہ کښې په کبر او لـويي او ځان ښودنې سره تـــګ مه کوئ. د تګ په وخت کښې بـــه له مـــشرانـــو ځخه وروسته ځو، او کله چې د مشرانو سره مخــــامخ شو نو بايده ده چې سلام ور باندې واچوو. په لارې د تګ په وخت کښې بايـــده چې د نـورو لارو يـــو په خـــوا کښې په اتيات (احـــتياط) سره تير شو او په ځنګ يې ونـه وهـــو.

په لوړ غږ به نه غـږيــږو. په لارې به خـــوراک نه کوو، ناپاکه او زيانــــمن شيزونه به په لاره کښې نه غـــورزوو. که په لاره کښې کوم زيانمن شـيز ووينو بايده چې د لارې نه يې لـــيرې کـــړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـــله چې په لارې ځـــو بایــــده چې پـــه ارام ډول شو.

## پوښتنې:

- مونږ کور کښې څه شان ته کښېنو؟

...........................................................

- په لاره کښې خوراک وکړه که نه؟

...........................................................




* * * * * * * *

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د سلام د اچولو یا سترِی مشی ادبونه

سلام اچــول د مینې او محبــت زیاتــېــدل دي. سلام اچول پېژند ګلوي پسې اړه نلري او هـــر مسلمان ته سلام واچوی. هر څوک چې په سلام او سترِې مشي کښې د مخه شي، زيات ثواب ترلاسه کوي.

سلام اچـــول سنت دئ او ځواب ورکــول يې واجب دئ. که د سلام ځــواب له سلام څخه په زیاتــو ښو کلمو ور کړل شي، ثواب لري، لکه د (السلام علیکم) ځواب په (وعلیکم السلام ورحمة الله) سره.

د خـــبرو پـــيل کـــولو څخه ړومبۍ بايده چې ســلام واچول شي. ړومبۍ سلام اچــول ډېر ثـــــواب لري. سپور به په پـلي (پیاده) لاروي، ولاړ به په نـــاست، کشر به په مشر او لږ خلک به په ډېرو خلکو سلام اچوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که له ګڼو کسانو څخه یو کس سلام واچوي د نورو له پاره هم بسیا کوي. په همدې ډول که له ګڼو خلکو څخه یو کس د سلام ځواب ور کړي پاتې کسانو ته د ځواب ورکولو اړتیا نشته. کله چې خپل کور ته ننوزئ، نو د کور پر غړو بایده چې سلام واچوو، ځکه چې په سلام اچولو کښې زیات برکت وي.

که کله د بل چا کورته ننو تلو، نوله ننو تلو څخه ړومبۍ باید سلام واچوو، ځکه چې سلام د پیژند ګلوی او اجازې اخیستلو یوه ښه لاره ده. که د خلکو کومې غونډې ته ورشو باید سلام وربانډې واچوو، او کله چې بېرته ور څخه رسختیږو نو د وروستي ځل له پاره هم باید سلام واچوو.

خدای پاک په قرآن شریف او پیغمبرﷺ په احادیثو کښې د سلام زیات اهمیت بیان کړئ دئ او ځای په ځای یې د سلام ادبونه ښودلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي. سلام مینه زیاتوي او رخه (کینه)، کرکه او بد ایسیدنه (بد بیني) له مینځه وړي.

نو موږ زده کوونکو ته په کار دي چې هر وخت د سلام ادبونه په پام کښې ولرو او هېڅ وخت يې هېر نه کړو.

## پوښتنې:

- سلام باید د چاله خوا په چا باندې واچول شي؟

.......................................................

- په سلام اچولو کښې کومې ګټې نغښتې دي؟

.......................................................

السّلام علیکم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمبل (غسل) بيان:

د غسل مانا (معنى) لمبل دى مګر د لمبلو په شريعت کښې يوه ځانګړې ليار ده.

ځان د جنابت او ناپاکې څخه په لمبلو سره پاکيږى.

د لمبلو (غسل) لاربنودنه دا ده چې لمړى به دواړه لاسونه تر مړوندونو پورې وينځى بيا استنجى وکړى او د بدن نه ناپاکي لرې کړى. بيا به اودس وکړى او په ټول ځان او به واچوى او ځان ومښى. بيا په ټول ځان درې ځـــلې اوبه وبهـوى.

بيا اوبه ورغړوى (غرغره) کړى او پيزې ته اوبه واچوى.

## د لمبلو فرضيات:

١ ـ د اوبو رغړول (غرغره کول)

٢ ـ پيزى ته اوبه اچول

٣ ـ په ټول ځان اوبه بيول

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمــبلو سنـــتونه:

۱ ــ دواره لاسونه د مړوندونو پورې مینځل

۲ ــ استـــنجی کــول

۳ ــ د لمبلو (غسل) نــیت کــول

۴ ــ اودس کول

۵ ــ په ټول ځان درې ځلی اوبه بیول

## اذان

اللّٰهُ اَکـبـر اَللّٰهُ اَکـبـَر

الله پاک ډیرلوی دی ــ الله پاک ډیرلوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



اَللّٰهُ اَکـبَـر اَللّٰهُ اَکـبَـر
الله پاک ډیرلوی دی ـ الله پاک ډیرلوی دی

اَشـهَـدُ اَنَّ لاّ اِلَـه اِلاّالله

ګواهی کوم چې د الله نه سوا بل معبود نشته.

اَشـهَـدُ اَنَّ لاّ اِلَـهَ اِلاّاللّٰهُ
ګواهی کوم چې د الله نه سوا بل معبود نشته.

اَشهَـدُ اَنَّ مُـحَـمّد رَسُـولُ الله
ګواهی کوم چې بیشکه محمد د الله رسول دئ.

اَشهَـدُ اَنَّ مُـحَـمّد رَسُـولُ الله
ګواهی کوم چې بیشکه محمد د الله رسول دئ.

حَـيّ عَـلى الصّـلوة ـ حَـيّ عَلَى الصّلوة
راشی مانځه له ـ راشی مانځه له.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**حَـيِّ عَلَـى الـفَلاح ـ حَـيِّ عَلَى الفَلاح**
**راشی د خلاصی طرفته ـ راشی د خلاصی طرفته**

**اَللهُ اَکـبـَر اللهُ اَکـبـَر**
**الله ډیر لوی دئ ـ الله ډیر لوی دئ**

**لااِلـــه الاّ الله**
**نشته بل معبود مګر یو الله دئ.**



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اودس اودنه (ترتیب)

لومړی: استنجا

دویم: بسم الله الر حمن الر حیم
د اودس په وخت کښې وایل.

دریم: لاسونه تر مړوند پورې درې ځلې
پریمنځل.

څلورم: د خولې پریمینځل درې ځلې.

پنځم: پېزې ته درې ځلې اوبه رسول او سونړول.

شپږم: د مخ پریمینځل د ښي غوږ پوڅکی نه تر
کین غوږ پــوڅکی پــورې ، او د تندي
ویښتانو څخه تر زنې پورې درې ځلې.

اووم: د لاسونو پریــمینځل تر څنــګل پورې هر
یو درې ځلې چې لـومړی ښی لاس او بیا
کین لاس به پریمینځل شي، څـــرنګه چې
اوبه به د لاس ورغـوي نه څنګل خـواته
بهیـــږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**اتم:** د سر ، غاړې ، غوږ وښوڅو او ږیرې مسح کــول.

**نهم:** د پښــو پـــریمـینځل تر ښنــګرو پــورې، چې لــومړی ښی پښه او بیا به کیــڼه پښه هــره یوه درې ځلې پریـمـینځــل شي.

*********



اودس کول



د اودس ځای

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تیمم

چـــیرته چې اوبه نه وي او یا د اوبو کـــارول زیان یا ضـــرر ولري، نو په داسې حالـــت کښې تیمم کـــول د اودس ځای نیـــــسي. څـــرنګه چې د ځان پاکـــي په اودس او پریـمینځلو سره کیداۍ شي، خو همداسـې په تیمم هم ځان پاک او لمونځ روا کیږي.

## د تیمم لاربنوونه:

لومړی به دواړه لاسونه په پاکه ځمکه ووهل شي او بیا به پر مخ ومښل شي. (که چیرې لاسوپسې خاوره خښنه شوي وي نو هغه دې تک وهي) بـیا به دواړه لاسونه پرځمکه وهي او دواړه لاسونه به تر څـنګل پورې داسې ومـــښي ترڅو چې هـیڅ ځـای د مسح څخه پاتې نشي. که ګـانه په لاس کښې واري، نـــو هغه وکـاږي او یا مخ ته او یا شـاته یې کړي. ځای


(c) ketabton.com: The Digital Library



**یې په ګـــوته ومښي او د لاسو ګوتې به خـــلال کړي خو ږیـــره به نه خـــلال کـوي. پـــر هر شي چې د ځمکې له جنس څخه وي تیـمم جایـــز ده که اوم وي یا پوخ چې ګـــرد ورباندې پـــروت وي که نه لـکه د ګچ ډبره، دیوال او د کودرو لوښي او نور.**

**په ایـــره تیمم جایـــز نه ده. په نورو څـیزونو چې د ځمکې له جنس څخه نه وي او پـر هغوی دوړې او ګرد وي تیمم جایز ده.**

********




**د تیمم لارښوونه**

(c) ketabton.com: The Digital Library





# د نارينه او ښځينه لمونځ توپير

د نارينه او ښځمنو تر منځ د لمونځ توپيرونه دا دي:

١ ـ د تحريمه تكبير (الله اكبر) په وايلو سره نارينه دواړه لاسونه تر غـوږو پورې پور ته كـوي او ښځـمنې لاسونه تر مټـو يا اوږو پورې پــورته كــوي.

٢ ـ نارينه خپل لاسونه د نامه غوټې تر لاندې تړي او ښځـمنې په ټــټــر باندې.

٣ ـ نارينــه بايد چې د ښي لاس وړه ګـوته او بټـه ګوته د كيڼ لاس تر مـړوند كړۍ كړي. ښځـمنې د ښي لاس ورغوى د كيڼ لاس په سر كيـږدي.

۴ ـ نارينه په ركوع كښې دومره ټيـټ شي چې سر د ملا سره برابرا وسيخ وي. ښځـمنې دومــره ركوع ته ټيـټې شي چې لاسونه يې ټوټــكې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسيږي.

۵ ـ نارينه ركوع كښې د لاس ګوتې پر ټوټكې پرانيستي ايږدي. ښځمنې په تړل شوو ګوتو سره ټوټكې نيسي.

۶ ـ نارينه په ركوع كښې څنګل د څنګ نه لېرې نيسي. ښځمنى به څنګل ځان يا څنګ ته نږدې نيسي.

۷ ـ نارينه په سجده كښې خېټه له ورون يا ادوم څخه، اوليچ له څنګ نه لېرې وساتي خو ښځمنې به سره جوخت نيسي.

۸ ـ نارينه په سجده كښې د پښو په ګوتو به پر ځمكه ځان كلك نيسي او ښځمنې به دواړه پښې د ښي له خوا د باندې كاږي.

۹ ـ نارينه په قعدې كښې ښى پښه سيخه ونيسي او پر كيڼه پښه كښيني. ښځمنې به دواړه پښې ښى

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوا ته د باندې وکـاري او کـښـيـنـي.

۱۰ ـ ښځـمنې به په هـر وخت او هـر حالت کښې به ورو غږ سره د لمونځ قرائـت کوي او نارينـه به په ځينې حالاتو کښې د لمــونځ قرائـت په لــوړ غــږ سره چې وجب دئ او ځينې حالاتـو کښې جــايـــز دی.

* * * * * * * *




د نارينه او ښځينه لمونځ توپير




(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه



لمونځ



## لمونځ

**نیت:**

**نیت د زړه ارادې ته وایـــي، او ژبـې سـره هـم نیت کــول ښه دئ، د پــاره ددې چې زړه او ژبـــه دواړه سره یوشي. لکه د مــازدیګر لــمونځ نیت چې په ژبه داسې وویـــل شي.**

**نیت کــوم د زړهٔ د خلاصــه چې وکــړم څلور رکعاته فرض لمـــونځ، په دې وخت د مازدیګــر خاص خدای لره، مخ مې د کعبې شریفې په لــورې الله اکــبر. که امام پسې لمــونځ کــوي، نو په نیت کښې وویــل شي چې: ( په دې حاضر امام پسې )**



لمونځ

(c) ketabton.com: The Digital Library



**تکبير تحريمه: الله اکبر (الله ډير لوئ دی)**

**الله اکـــبر وئـيلـــو سره دې دواړه لاسـونه غـــوږونو پـــورې (او ښځې دې اوږو پورې) او چت کړي، او د نامــــه لانـــدې دې داسې وتــــړي چې د ښي لاس وړه ګوتې او غټه ګوتې نه دې کړی جوړه کـــــړي او د کـين لاس مـــړوند دې پرې ونيسي، ښځمنې به دښــي لاس تلی يا ورغوی د کين لاس د پاسه په تېر ګيږدي.**

**ثنا: بيا دې لاندينې ثنا ووايې:**

**سبُحَانَـك اللهُمَ وَبِـحَـمْـدِكَ وَتبَارَكَ اسْمُكَ وَتَـعَالَـى جَـدُكَ وَ لآاِلَــهَ غَـيـُرُكَ.**

**ژباړه:**

**ای څمــــالله ستا ذات پاک دئ، تهٔ د صفـت لايق يي ستا نوم دبرکت دئ او ستا لـــويی ډيــره لـــويه ده، او ستا نه بغير بل څـوک د عبادت لايق نـشـــته که امام**

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسې مونــځ کــوي، نو بس دغه ثنـــا دې ووايئ بيا دې غـــلې شـــي.

## تعـوذ:

کنې دا دې ووايي:

اَعـُوذُ بِــاللّهِ مِـن الشـيُـطَـنِ الـرَجِـيـُم.

ژباړه:

زه د شيـطان رټـلې شوي نه د الله پناه غـــواړم

## تسميه:

بسْمِ اللهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيم

ژباړه:

پـيل کـــوم په نامه د الله چې ډېر مهربانه او رحـم کونـکئ دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة فاتحه:

الْحَمْدُ للّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ *

الرَّحْمـنِ الرَّحِيمِ *

مَـلِكِ يَوْمِ الدِّينِ *

إِيَّاكَ نَعْبُدُ وإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ *

اهدِنَــــا الصِّرَاطَ المُستَقِيمَ *

صِرَاطَ الَّذِينَ أَنعَمتَ عَلَيهِمْ غَيرِ المَغضُوبِ عَلَيهِمْ وَلاَ الضَّالِّينَ *

ژباړه:

تــول تعريفـونـه الله لره دي، چې د تــولو مخلوقـاتـو پالونكى دئ. ډيـر مهـربانـه رحم كونكى دئ د جزاد ورځې مالک دئ مـوږ خـــاص ستا عـبادت كـوو او خاص ستا نه مدد غواړو موږ په سمه لار روان كړې د هغـو خلقـو په لار چې تا پـرې خپل انعام پـيـرزو كـړئ دئ، نه په لار د هغه كســانو چې ستا غضب

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهلي دي او نهٔ په لار د هغو خلکو چې ګمراهان دي.
د سورة فاتحه د لوستو نه پس دې امام او مقتدی ورو شان آمين ووايي.

## سورة اخلاص:

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ* وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ *

ژباړه:

ای پيغمبره دې خلقو ته ووايه چې الله يودئ الله بی نياز دئ نهٔ د هغهٔ نه څوک پيدا دي او نهٔ هغه د چا پيدا دئ او نهٔ ورسره څوک برابر شته.

بيا دې الله اکبر ووايي، او رکوع ته دې لاړشي.

رکوع کښې دې دواړو لاسونو سره کونډې ونيسي ګوتې دې نيغې وي ملا او سر دې يو سيدهه کښې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رکوع تسبيح:

او دا تسبيح دې درې ځله ووايي:

سُبْحَانَ رَبِّيَّ الْعَظِيْم *

### ژباړه:

زما لوی پرورد ګار پاک دئ.

## تسميع:

بيادې امام صاحب "تـيمـيـع" :

سَمِــعَ اللّٰهُ لِــمَــن حَـمِـدَه*

اوری خــدای چې څــوک يې ثــنـــا کوی.

ووايي او د رکـــوع نه دې پــورته شي، نيـــغ دی ودريــږي، او مقــتدي دې دا ووايي:

## تحميد:

ر بَنَـالَـك الــحَـمـدَ

(ای زمونږ ربه ټول تعـريف تالـــره دئ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ځان له مـونـځ کوی، نو تسميـع او تـحمـيد دواړه دی ووايـــي بـيا دی الله اکـبر ووايـــي او سجـدی ته دې داســې لاړشــي، چې اول دې دواړه کــونــډی په زمـکه کيږدی بيــا دواړه لاسونه بيا پوزه بيــا تنــدی سجـده کښی دی دواړه لاســونه د غـــوږونــو برابري کښی ساتی، او ګوتی دی نيغی مخ په قبله وي.

## د سجدی تسبيح:

بيا دی درې ځله دا تسـبيــح ووايي:

سُبْحَانَ رَبِيَّ الاَعلى *

ځـما عاليـشــانه پرودرد ګار پاك دئ

بـيــا چې الله اکـبر ووايـــي، نو د سجـدی نه دی اول مخ، بيا پوزه بيا لاس او چت کړی، کينه پښه دی وغزوی، ښی پښه دی ود روي، کښېني، ناسته کښی دی لاسونه په ورنو نو کيږدې، په ښۀ شان د ناستی

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وروسته دې بيا تكبير وكـړي، بيا دې الله اكـــبر
ووايي او دويـم ركــعت له پاره دې ودريـــږي دويم
ركـعت كـښـــې ثـنــا او تـــعـوذ نه شـــى ويــيلى
بسم الله الر حمن الر حيم دې ووايـــي او د ړومــبـي
ركعت په شان دې دا ركعت هـم وكـــړي د دويـــم
ركعت سجدې چې و كړي، نو كښېني، او دا "تشهد"
دى .

ووايي:

## تشهد:

اَلتَّحَيَّاتُلِلهِ وَالصَّلَوات وَالطَّيِّبات، اَلسَّــلاَمُ عَلَيْكَ أيُّهَا
النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُه،
اَلسَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِيْنَ، أشْهَدُ أنْ لاَ إلهَ
إلاَ اللهُ وَأشْهَدُ أنْ مُحَمَّدًا عَبْدُه وَرَسُوْلُه*

## ژباړه:

تـول قـولى، بـدنى او مالى عبادتـونـه الله لره دي اى
نبى(ص) په تا دې د الله سلام، رحمت او بركت وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مـوږ او د الله صالحانو بندګــانو دی سلامتي وي.
زه ګــواهي کوم چې د الله نه بغـير بل څوک د عبادت لايق نشته او زه ګواهی کوم چې محمدﷺ د الله بنده او رسول دی.

**ژباړه:**

د تـشهد ويـيلو په وخت چې: اَن لاَالَـهَ  ته ورسي، نــو د ښي لاس د وړه ګــوتې او د مينــځنې ګــوتې نه دې کــړی جــوړه کړي موټــیٔ دې بند کــړي او د کــنځــه (مسواکهٔ) ګوته دې او چته کړي، او په : الا الله: دې راښکته کـړي، موټی دی د آخــره پورې بند وي.
که مونځ د درې يا څــلورو رکـعاتو وي، نــو:

عَـبــدَهُ وَرَسـُولـُـــهُ :

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــورې چــې ووايـــي، بيا دې الله اكـــبر ووايـــي او ودربېــږي، او پاتې مونځ دې پــوره كــړي. او كــه مــونځ د دوه ركعتو وي نو تـشهد لوستلــو نه پس دا درود شريف دې ولولي:

**درود شريف:**

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰى إبْرَاهِيْمَ وَعَلٰى آل إبْرَاهِيمَ، إنَّكَحمِيْدُ مَجِيْدُ*

**ژباړه:**

ياالله په محمد (ص) او د هغه په ال رحمت نـازل كړی څنګه چې دې په ابــراهيم او د تعريف او د بـــزرګی لايق يې.

اَللّٰهُمَ بَارِكْ عَلٰى مُحمَّدٍ وَعَلٰى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلٰى إبرَاهِيمَ وَعَلٰى آلِ إبرَاهِيمَ، إنَكَ حمِيْدُ مَّجِيْدُ*

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:**

**یا الله (ج) په محـمد(ص) او د هغه په ال برکـت نــازل کړې، څنـګه چې دې په ابراهـیم(علیه السلام) او د هغه په ال برکت نازل کړی وو، ببشکه ته د تعریف او بزرګی لایق یې.**

**درود شریف نه پس دعا:**

**اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اتِنَا فِی الدُّنْیَا حَسَنَةً وَّ فِی الاخِرَةِ حَسَنَةً وَّ قِنَا عَذَابَ النَّارِ***

**ژباړه:**

**یاالله (ج) ځمونږ دنیا کښې هم نیکی نصیب کړی او آخــرت کښــی هم نیــکی او دوزخ د اور نـــه امان راکـړې بلـــه دعـــا داده:**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دعا:

اللهم إني ظلمت نفسي ظلما كثير

اولا يغفر الذنوب إلا أنت فاغفر لي مغفرة من عندك وارحمني انك انت الغفور الرحيم

## ژباړه:

یاالله بیشکه ما په خپل ځان ډیر ظلم کړی دی او زما ګناه بغیر تا نه څوک نشی بخښلی، نو د خپلی خاصي بخښنې پیرزوینه را باندې وکړې او په ما رحم وکړې، بیشکه ته بخښونکئ او مهربانه يې.

## تسلیم:

اَلسَلاَمَ عَلَيكُم ورحمَتُ اللهِ


## ژباړه:

په تاسو دې د الله سلامتي او رحمت وي.

## دعايی قنوت:

دا دعا د وتـر په دريـم رکعـت کښې د قـرأت نه پس، غوړونـو ته لاس او چت کـړئ، تکبيـر ووايي او د رکوع نه مخکښې لوستى شي:

## دعا:




## ژباړه:


ياالله موږ تا نه مـدد غـواړو بخـښنه غـواړو، په تا ايمان راوړو په تا توکل لرو ستا خـوبي بيانــوو ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکر و باسو ستا نافـرماني نهٔ کوو، جلا کيـږو د هغه چاته چې ستا نافـرماني کوي، يا الله مونږ ستا عبـادت کوو، تا له لمونځ او سجده کوو تا ته در زغلو، خدمت کوو، ستا د رحمت اميـدوار يو ستا د عـذاب نه يريـږو بيشکه ستا عذاب کفارو ته رسيدونـکیٰ دئ.

## ايات کرسی:




**ژباړه:**

د الله تعالی نه بغـير بل څوک د عبادت لايـق نـشـتهٔ ژوندی دئ سنبالونـکی دئ نه ور لـه پر کالی او نه ور

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خــوب راځی، زمکه او آسمانــونــو کښې چې څــه دي هغه ټــول د هغهٔ دي. د اجــازت نه بغــير ورتـــه سفارش نشی کولی ټول حاضر او غائــب حالات ورته معــلوم دي او موجودات د هغه د معــلوماتو نه هيــڅ څــيز خپل علــمي احــاطه کښې نشــي راوستــی خــو څومره چې هغه غــواړي د هغه کــرسیٔ ټول آسمانونه او زمکه را ګير کړې ده.

ددې دواړو حفاظــت هــيڅ ګــران نه دی، هغه د لــوې لــويي خاونــد دی.

## د مونځ نه پس تسبيحات:

که جماعت سره مونــځ او کړی يا ځان له چې فــارغ شی، نو ايت کرسی او لاندينی تسبيحات دی.

ولولي، چې د دين دنيا ګټې په کښې پرتې دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سَبــحــَان الله (۳۳ ځله )

اَلــحــَمــــدلله (۳۳ ځله )

الله اکـــــــبر (۳۳ ځله )

کلمهٔ توحید (یو ځل )

د سحـر او مازیګـر مانځـه نه پس سنـت نشته، په دې وجه د سلام نه پس دی اول تسبیـحات او بیا دعــا او غواړی.

چې څه دی هغه ټــول د هغه دی، د هغهٔ د اجـــازت نه بغیـر ورته سفارش نشی کــولی.

## تراویح لمونځ:

دا لمـونــځ د روژې مبارکــې میاشـتې له پاره ده چې د ماخستن لمـونـځ له فرض او سنت څخه وروسته او د وتـر نه د مخـه شل رکـعـاته تـراویـح لمـونـځ په لسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلام سره ادا کیږي. په روژه کښې وتر د جماعت سره تر سره کیږي، که چیرې تراویج په جماعت سره ادا شي.

که څوک د تراویح لمونځ د ادا کولو له پاره جومات ته ځي او تراویح لمونځ پیل شوئ وي، باید لومړی فرض او سنت لمونځ وکړي او بیا به په تراویح کښې برخه اخلي. هغه تراویح لمونځ چې ور څخه تېر شوئ وي هغه به په ارآمه وقفه کښې په څلورو رکعات نیت کولو سره پوره کړي. که نه نو د وتر جماعت به یې سم نه وي.



(c) ketabton.com: The Digital Library



# د جمعی لمونځ

د جمعی لمونځ لــکه د ورځنیٔ پنځه وختـه لمـونځ په شان فرض دئ. کلیــوالو باندې فرض نـه ده او هـلــته دي د ماسپښنین لمونځ وکړئ شي.

د جمعې لمونځ څوارلس رکعاته دئ:

څــلور سنت د خطبې نه مخـکې، دوه فـرض د خـطبې نه وروسته، بـیا څلور سنت، دوه سنت، بیا دوه نـفل.

# د اخترونو لمونځ

د اختـــر لـمونځ واجــب او دوه رکـعـاته دي. د لـــوی اختـــر او کـمکي اختـر لمونځ په کلـــیوالـو واجب نه دئ. ښـارونـو او لویو آباد یو کښې واجـب دئ. اختـــر په ورځ ځان مینځـل، غاښــونه برس کول یا مسواک کول، پاکـې یا نوې جامــې اغوستل او عطـر وهـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنت دئ. کـمکی اختــر لمـونځ د شــرعي عــذر په درلودلــو سره تر دوهـم ورځ او لوی اختر لمـونځ تر دریـمې ورځې پــورې جایــز ده.

## د اختر د لمونځ نیت:

نیت کوم چې وکـړم دوه رکـعاته د کـمکي اختــر یا د لوی اختر لمـونځ، سره د شپــږو تکبیـرونو دې حاضر امــام پسې الله اکبر ووایــي او لاســونه دې وتــړي او ( سَبـحاَنَـكَ اللّـَهـُمَ ) دې تــر پای پورې ووایي او بــیا دې غـلـي ودریــږي. اوس امام درې ځلې تکبیـر وایي او لمـونځ کوونـکي به هر ځلې لاسـونه تر غـوږونو پورې رسوي او پریــږدي او د دریم تکبیر په وایـلـــو سره لمونځ کوونکي بیا لاسونه وتړي.

دویـــم رکـعت په پـــای کښې بــیـا امــام درې ځــلـې تکبیـرونه وایي او لاســونه تــــر غـــوږ وپـــورې ورسـول شــي او څلورم تکبیر سره بهٔ رکوع ته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې سلام وکــړځــول شی نو امام بیــا د اختر خــطبه لــولي. خطــبې او دعا نه وروسته لمونځ کــوونکي به خپلو منځو کښې ستړې مشي او اختر مبارکي وکړي.

## د جنازې لمونځ

پر مــړه مسلمان بانــدې وروسته تر غــسل ورکــولو د جنازې لمــونــځ اداء کیـــږي.
د جنازې لمــونــځ بې له رکــوع او سجدې څخه پــه جماعــت سره اداء کیـــږي.

## د جنازې لمونځه د اداء کولو اوډنه

**(ترتیب):**

وروسته تردې چې مــړه مسلمان ته یې غسل او کــفن ور کــړ، جنازه یې د امــام د مــخ ته ږدي. مسلمانان په اوداســه سره لکه د جماعــت د لــمــانــځه له پـــاره دریـــږي او د جنازې د لمانځه نیت کـــوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د جنازې د لمانځه نیت:

نیت مې کړی څلور تکبیره د جنازې لمونځ کوم ثنا د خدای وایم، درود په محمد رسول الله وایم، دعا کوم د پارهددې مړي، خاص خدایه تاته ودرېږم مخ مې د کعبې شریفې په لوري.

تر نیت وروسته امام په جګ غږ الله اکبر وایي او لاسونه د غوږو تر پوڅکیو (نرمیو) پورې پورته کوي. لمونځ کوونکي (مقتدیان) هم لاسونه د غوږو تر پوڅکیو پورې پورته کوي او په پټه تکبیر وایي، امام او لمونځ کوونکي ثنا (سُبحَانَكَ اللَهُم) تر پای پورې غلي لولي.

امام په جګ غږ او لمونځ کوونکي غلي دوهم تکبیر وایي او لاسونه، نه پورته کوي. وروسته له دوهم تکبیر ویلو څخه امام او لمونځ کوونکي غلي درود شریف لولي او د دوهم تکبیر په شان دریم تکبیر

اداء کــوي. تر دریم تکبــیر وروسته امام او لمــونــځ کوونکي د جنازې د لمانځه دغه دعا غلې لولــي.

## د بالغ نر او ښځې د مړي د جنازې دعا:


أللهم اغفر لحينا وميتنا وشاهدنا
وغائبنا وصغيرنا وكبيرنا وذكرنا
وانثانا.اللهم من أحييته منا فأحييه
منافأحييه على الاسلام ومن توفيته
منا فتوفه على الايمان ط

## ژباړه:

خدایه زمــوږ ژوندي او مړي. حاضر او غایب. نــارینه او ښځې وبخښې، خــدایه که دی له مــوږ څخه څــوک پیــدا کــاوه د اســلام په دیــن یې پــیدا کــړه او کــه دی له موږ څخه څوک مړ کاوه په ایمان یې مړ کړې.

وروسته د جنــازې د لمــانځــه دعــا ویــلو څخه امــام په

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ولاړه باندې څلورم تکبير وايي او سلام ګرځـوي او مونځ پای ته رسيږی.**


**که مړی هلک وي او ځواني ته نه وي رسيدلی يعنی کوچـني وي دا دعـا ويـل کـيږي:**




**ژباړه:**

**خــدايـه: دغه هلک مـوږ ته اجـر، ثواب او ذخـيره وګرځـوې او موږ ته يې شفا عتګر او شفاعت قبول شوی وګـر ځوې.**

**که مـړی نـجلی وي او ځوانی ته نه وي رسيـدلې دا ډول دعا پرې وايي:**



(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:**

**خـدايـه: دغه نجلى مونږ ته اجــر، ثــواب او ذخـيره وګـرځـوې او مـونـږ ته يې شـــفا عتـګـر او شفـاعـت قبول شوې وګرځوې.**

## يوښتنې:

**۱ ـ فرض څو ډوله دي؟**

**۲ ـ د جنازې لمونځ څه شى دى؟**

**۳ ـ د كـوچنى هلک په جـنازه كښې كـومه دعـا لوستل كيږي؟**

**۴ ـ د كــوچني نجــلى په جـنازه كښې كومه دعـا لوستل كيږي؟**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سورة الكوثر

إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ * فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ * إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ *

# سورة الكافرون

قُلْ يَا أَيُّهَا الْكَافِرُونَ * لاَ أَعْبُدُ مَا تَعْبُدُونَ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * وَلاَ أَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدتُّمْ * وَلاَ أَنتُمْ عَابِدُونَ مَا أَعْبُدُ * لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ *

# سورة النصر

إِذَا جَاء نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ * وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا * فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا *

# سورة المسد

تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ * مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



* سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ * وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ *
فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ *

## سورة الإخلاص

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ * اللَّهُ الصَّمَدُ * لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ * وَلَمْ يَكُن لَّهُ كُفُوًا أَحَدٌ *

## سورة الفلق

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ * مِن شَرِّ مَا خَلَقَ * وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ * وَمِن شَرِّ النَّفَّاثَاتِ فِي الْعُقَدِ * وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ *

## سورة الناس

قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ * مَلِكِ النَّاسِ * إِلَهِ النَّاسِ * مِن شَرِّ الْوَسْوَاسِ الْخَنَّاسِ * الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ * مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ *

(c) ketabton.com: The Digital Library

الله جل جلاله

# ديني لارښود

## لومړی ټوک

ژباړه، لیکنه او اوډنه
ډیپلوم انجنیر عبدالله هاشم خیل



2011



د پښتو کمپیوټری لیک او دیزاین:
ښاغلی حمیدالله هاشم خیل ځاځی

ددې کتاب چاپول او فوتوکاپي کول پرته د لیکونکي د اجازت منع دی.

hnv-online@web.de

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Wrazpanna

## دینی لاربنود

ومن الله التوفيق
که غوټۍ پسې وهې په لاس به درشي
چا ویل دا چې په دریاب کې گوهر نشته




















**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**